AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبید الله نادر ۲۰۲۴/۱۰/۱۳

# د سر سړی

آ مهربانه زړه سوانده ، د زړه سر مو څه شو
د سر سړی،آدیده ور او خوله ور مو څه شو

چې په وینا یې ، تکوریدل د درد منو زړونه
د خطابی او د میدان آ سخنور مو څه شو

د بی قدرانو بی هنرو سره وخت تیراوو
چې د ماحوله وو واقف، آ با خبر مو څه شو

چې د پو هنې په ګانه یې هم ، وینا وه سمبال
د خطابی په رمز خبره سخنور مو څه شو

چې استبداد ته یې سینه وه، لکه غر نیولي
د قام د پاره فدایی ، او لوی افسر مو څه شو

زمونږ د زړه سر ، د سر تاج دا سخندانه آشنا
چې یې هر چا په زړه کې ځای ووآ دلبر مو څه شو

چې معرفت څراغ یې بل وو په سینه کې همیش
د علم و فن په نور روښان آ منور مو څه شو

چې په وینا کې وو بی ترسه تر هر چا په دي دور
دا تر همه وو بهادر، او زړور مو څه شو

سید عبید الله نادر


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ